کامډن (Camden) د زده کړې لپاره یو ډېر ښه ځای دی. موږ په خپلو غوره ښوونځیو او هغو کارکوونکو ویاړو چې هره ورځ زیار باسي ترڅو ماشومانو ته تر ټولو غوره زده کړې برابرې کړي.

موږ غواړو چې په کامډن کې هر ماشوم د خپل کور ترڅنګ په داسې ښوونځي کې ځای ولري چې د هغه اړتیاوو ته مناسب وي او په یوه بشپړ ټولګي کې زده کړې وکړي، ترڅو د زده کړې، ملګرتیا او پرمختګ لپاره غوره چاپېریال ولري.

په کامډن او د لندن په نورو سیمو کې ښوونځي له زیاتېدونکو مالي فشارونو سره مخ دي.

د ماشومانو د زېږون د کچې ټیټېدل او له لندن څخه د کورنیو کډه کول د دې لامل شوي چې په ښوونځیو کې د شاملېدو لپاره ماشومان کم شي. له همدې امله، د زده کوونکو شمېر کمېږي او په ښوونځیو کې له اړتیا څخه زیات ځایونه تش پاتې کېږي.

په لومړنیو ښوونځیو کې د هر تش ځای له امله، ښوونځي هر کال په منځنۍ توګه د حکومت له مهمې مالي مرستې څخه 7,500 پونډه له لاسه ورکوي. په ثانوي ښوونځیو کې د هر تش ځای له امله، دا اندازه په کال کې په منځنۍ توګه 9,700 پونډه ده.

د سیمه ییزې شورا په توګه، موږ مسؤلیت لرو چې ډاډ ترلاسه کړو چې په ښوونځیو کې کافي، باکیفیته او د اوږدې مودې لپاره د دوام وړ ځایونه شته او دغه ځایونه په اغېزمنه توګه اداره کېږي.

د زده کوونکو د شمېر د کمېدو له امله، موږ اړتیا لرو چې دا وضعیت له ښوونځیو سره په نږدې همکارۍ اداره کړو.

د تېر کال په اوږدو کې، د ښوونځیو د کافي ځایونو د برابرولو د پروګرام (School Sufficiency Programme) د یوې برخې په توګه، موږ له هغو ښوونځیو سره نږدې همکاري کړې چې له دغو ستونزو څخه ډېر اغېزمن شوي دي، ترڅو له هغوی سره د دې ننګونو په حل کې مرسته وکړو.

د ټولو له هڅو او ژمنتیا سره سره، څلور ښوونځي لا هم له ډېرو سختو او دوامداره ستونزو سره مخ دي، چې په لاندې ډول دي:

- د زده کوونکو لپاره د ډېرو ځایونو خالي پاتې کېدل؛
- د زده کوونکو د شمېر کمېدل؛
- له اړتیا څخه د زیاتو ځایونو شتون؛ او
- د مالي فشارونو زیاتېدل.

دغه ښوونځي په لاندې ډول دي:

- د سېنټ البان د انګلستان کلیسا ابتدایي ښوونځی (St Alban’s Church of England Primary School)
- د سېنټ جوزف کاتولیک ابتدایي ښوونځی (St Joseph’s Catholic Primary School)
- د سېنټ پاټریک کاتولیک ابتدایي ښوونځی (St Patrick’s Catholic Primary School)
- د لا سېنټ یونیون کاتولیک ثانوي ښوونځی (La Sainte Union Catholic Secondary School)

موږ له دغو ښوونځیو سره نږدې همکاري کړې او د راتلونکو ګامونو په اړه مو ورسره خبرې کړې دي.

د 2026 کال د اکتوبر په 12مه نېټه، موږ یو راپور خپور کړ چې پکې د دغو ښوونځیو د راتلونکي په اړه د مشورتي بهیر د ترسره کولو وړاندیز شوی دی.

د اکتوبر په 20مه نېټه، د کامډن د شورا د کابینې غړي، چې د شورا د مشرتابه غړي دي، غونډه کوي ترڅو دغه راپور وڅېړي او پرېکړه وکړي چې یاد مشورتي بهیر پیل شي او که نه.

د اکتوبر په 21مه نېټه، موږ به ښوونځیو او اړوندو کسانو او ادارو ته د شوي پرېکړې او راتلونکو ګامونو په اړه تازه معلومات ورکړو.

که مشورتي بهیر پیل شي، تمه کېږي چې د نومبر له 2مې نېټې څخه د ډسمبر تر 14مې نېټې پورې دوام وکړي.

په دې صورت کې به د هر ښوونځي لپاره جلا مشورتي بهیر ترسره شي او له کورنیو څخه به د بېلابېلو وړاندیز شویو انتخابونو په اړه نظرونه وغوښتل شي.

که چیرې مشورتي بهیر پیل شي، د هر ښوونځي لپاره لاندې انتخابونه د مشورې لپاره وړاندیز شوي دي:

د سېنټ البان د انګلستان کلیساابتدایي ښوونځي (St Alban's Church of England Primary School) لپاره وړاندیز شوي انتخابونه:

- د ښوونځي د زده کوونکو د منلو د اعلان شوي شمېر (Published Admission Number – PAN) کمول.
- د سېنټ البان ښوونځي تړل او د هغه زده کوونکي د کامډن بل ابتدایي ښوونځي ته لېږدول، ترڅو دواړه ښوونځي سره یوځای شي.
- د ښوونځي تړل.

د سېنټ جوزف کاتولیک ابتدایي ښوونځي (St Joseph's Catholic Primary School) لپاره وړاندیز شوي انتخابونه:

- د ښوونځي د زده کوونکو د منلو د اعلان شوي شمېر (PAN) کمول.
- د ښوونځي تړل.

د سېنټ پاتریک کاتولیک ابتدایي ښوونځي (St Patrick's Catholic Primary School) لپاره وړاندیز شوي انتخابونه:

- د ښوونځي د زده کوونکو د منلو د اعلان شوي شمېر (PAN) کمول.
- د سېنټ پاتریک ښوونځي تړل او د هغه زده کوونکي د کامډن بل ابتدایي ښوونځي ته لېږدول، ترڅو دواړه ښوونځي سره یوځای شي.
- د ښوونځي تړل.

د لا سېنټ یونیون کاتولیک ثانوي ښوونځي (La Sainte Union Catholic Secondary School) لپاره وړاندیز شوي انتخابونه:

- د ښوونځي د زده کوونکو د منلو د اعلان شوي شمېر (PAN) کمول.
- له بل ثانوي ښوونځي سره د ګډې ادارې جوړول، چې دواړه ښوونځي د یوې ګډې ادارې تر مشرۍ لاندې فعالیت وکړي.
- یوازې د 7م څخه تر 11م ټولګي پورې د ښوونځي د زده کړو څانګه تړل، خو له 16 کلنۍ وروسته د زده کړو څانګه (له 12م څخه تر 13م یا 14م ټولګي پورې) ساتل او د هغې په جوړښت کې بدلون راوستل.
- د ښوونځي بشپړ تړل، چې له 7م څخه تر 13م یا 14م ټولګي پورې ټولې زده کړې پکې شاملې دي.

موږ اوس مهال پر داسې یوه پلان کار کوو چې ډاډ ترلاسه کړو، که مشورتي بهیر پیل شي، نو هر مور، پلار او پالونکی به وکولای شي خپل نظر څرګند کړي.

موږ پوهېږو چې د دې خبر اورېدل ستونزمن دي، خو اړینه ده چې همدا اوس اقدام وکړو، ترڅو وضعیت نور خراب نه شي او په سیمه کې د ټولو ماشومانو لپاره د باکیفیته زده کړو خدمات، هم د اوس لپاره او هم د راتلونکي لپاره، خوندي وساتو.

د نورو معلوماتو لپاره، چې د هر ښوونځي لپاره وړاندیز شوي انتخابونه، پوښتنې او ځوابونه او د اړیکو معلومات پکې شامل دي، مهرباني وکړئ لاندې وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ: **camden.gov.uk/SchoolProposals**

موږ به د اکتوبر په 21مه نېټه نور تازه معلومات وړاندې کړو.